د انسان د غړو په هر بند صدقه ده

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «د انسان د غړو په هر بند صدقه ده، هره ورځ چې لمر پکې راخيژي او د دوو مخالفو کسانو تر منځه روغه جوړه کوي صدقه ده، او يو چا سره د هغه په سپرلۍ کې مرسته کول صدقه ده چې د هغه په سپرولو کې ورسره مرسته وکړي او يا ورسره د سپرلۍ په بارولو کې مرسته وکړي، او نېکه وينا صدقه ده او هر قدم چې د لمانځه په لور يې پورته کوي صدقه ده او له لارې ضررناک شيان لرې کول هم صدقه ده.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې هر مسلمان هره ورځ مکلف دی چې د خپلو هډوکو د بندونو د شمېر په اندازه صدقه ورکړي چې شکر يې ادا کړي او دا چې روغ يې پيدا کړی او هډوکي يې ورته داسې پيدا کړی چې هر يو بند يې بندولی او خلاصولی شي، دا صدقه د ټولو نېکونو کارونو په ترسره کولو سره ادا کيږي او د مال ورکولو سره ټراو نه لري لکه: د دوو شخړه کوونکو تر منځ روغه او جوړه کول صدقه ده، او دا چې د يو کمزوري سره په سپرلۍ سپريدلو کې مرسته وکړي او يا يې ورسره بار کړي، نو دا ستا لپاره صدقه ده، او نېکه وينا صدقه ده لکه: ذکر، دعا، سلام او داسې نور، او هر قدم چې د لمانځه په لور يې اخلې صدقه ده، او د لارې څخه د ضرري څېز لرې کول صدقه ده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4568